انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱۷/۱۲/۰۱

# د هر اختلاف پای ماتی ده

زه په تاریخی لحاظ پوره معلومات نه لرم چی ولی، د چا له خوا، د کومو د لایلو پر بنیاد، د کومو هدفونو د لاس ته راوړنی په منظور او په دقیقه توگه څه وخت د اسلام مبارک دین په دوه بیلو او تقریباً له هماغه پیل نه په دښمنو ډلو (سُـــنـي او شـــــعیه و) و ویشل شو؟ او بیا ولی دا دواړه ډلی په نورو وړو ډلو مثلاً سُنیان په (شافعی، حمبلی، مالکي او حنفی) مذهبونو او په راوروسته کی بیا د سلفی، وهابی، احمدی او نورو وړو مذهبونو او یا طریقو باندی تقسیم شول او همدا رنگه ممکن په شعیه ډله کی هم همداسی نوری څانگی او طریقی موجودی وی، خو د څه د پاره؟ ما د ډیرو سُنی او شعیه دینی عالمانو نه دا پوښتنی کړی خو تر اوسه می داسی یو ځواب نه دی پیدا کړی چی د ا ویشنی دی یا د اسلام د دین د سمی پیژندنی د پاره، یا د اسانتیاو د را منځ ته کیدنی د پاره اویاپه دینی احکامو د پوره پوهیدنی د پاره شوی وی. تر کومه ځایه چی زما فکر په دی برخه کی کار کوی زه داسی پوهیدلی یم چی دا ټولنی بیلیدنی او په ډله کی د ډلگی د جوړونی اساسی لاملونه دادی چی:

۱ـ د اسلام د مبارک دین ټول پیروان (د اصحابو کرامو په شمول) د قران عظیم الشان د مبارکو آیاتونو او ورسره د حضرت محمد مصطفی (ص) د وینا و او احادیثو په معنی، مفهوم ، تعبیر او تفسیر کی د ستونزو سره مخامخ شویدی او په هغو لاربنونو یی سم سر نه دی خلاص شوی کومی چی په قران شریف او یا د نبی کریم (ص) په احادیثو کی شویدی. او همدا سمه نه پوهیدنه چی له هماغه لومړی وخت نه را پیل ده تر ننه را رسیدلی، اختلافات یی را منځ ته کړی، دښمنی یی را پیداکړی او په مجموع کی یی د اسلام مبارک دین ته د گټی پرځای لوی تاوانونه ور اړولی او لایی هم ور اړوی.

۲ـ ممکن بل دلیل به داوی چی د اسلام د دین عالمانو کله هم داسی یوه کنگره، غونډه او د اسلامی ارشاداتو او داسی اسلامی شرعی اصولو د تعیینولو د پاره چی د ټولی دنیا د مسلمانانو د پاره د قبول وړ وی، نه ده جوړه کړی او نه یی دا زیار ویستلی چی د یوه داسی واحد اسلامی قانون د جوړیدو بندوبس وکړی چی د الله (ج) د مبارک کلام سره مغایرت ونه لری او ټولو مذاهبو ته د مننی وړ و گرځی.

۳ـ دریم لوی د لیل هم ممکن د دینی عالمانو سرزوری او خودخواهی وی او د هر سیمی او هیواد دینی عالمان او د بیلو مذهبونو پیروان ځان تر نورو ښه پوهان، ښه مسلمانان، او د اسلامی عدالت د تطبیق مخکښان و بولی او د نورو سیمو دینی عالمان او پوهان ورته د خبرو سیالان و نه بریښی، بلکی بی له دی چی د نورو دلایل واوری، نور اړ



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

بولی چی بی له دلیل ویلو د دوی فیصلی و منی او ورته تسلیم شی. دوی ته ممکن خپله فیصله او پریکړه قطعاً د خدای (ج) فرمان بریښیدلی وی.

۴ـ خو زه ګومان کوم چی تر ټولو مهم، ستر او سخت اغیزمن د لیل به سیاست وی چی د خپلو ټولو مرداریو او چټلیو سره یی د اسلام د مبارک دین په لمنی پوری ځان ور نښلولی او دا پاکه لمن یی چټله کړیده. ځکه خدای (ج) وایی چی «مؤمنان ټول سره ورونه دی.» خو سیاست کی ورورولی نشته. خدای (ج) فرمایی چی « ترټولو بهتر بنیادم هغه دی چی متقی او پرهیزګاروی.» خو په ساست کی تقوا او پرهیزګاری بی عقلی او نادانی ده. خدای (ج) په دروا غ و یونکو لعنت وایی خو سیاست (۹۰) سلنه د دروا‌غو نه جوړ دی او همداسی په سلګونو نور توپیررونه په اسلام او سیاست کی. خو د سیاست په دی ټولو نیمګړتیاو با خبر دینی عالمان چی هم د دین مرشدان دی او هم غواړی چی سیاسی لیډران شی، نو ضرور به پوه هندوانه په ځمکه لویږی ځکه په یوه لاس کی دوه هندوانی نه نیول کیږی.

خو اوس پوښتنه داده چی په روانو حالاتو کی په اسلامی نړۍ کی د دا دومره سترو مصیبتونواو کړاوونو مسؤلیت د چا په غاړه دی؟

شاید دی پوښتنی ته به هر د نظر خاوند بیل بیل ځواب ولری، څوک به یهود، څوک به انګریز، امریکا.روس،چین او نور نور ملامت ګڼی او وبه وای چی اصلاً همدا د اسلام دښمنان دی چی دا مسلمانان په قرار نه پریدی او هره ورځ ورته نوی نوی ستونزی جوړوی. زه دا ځواب نه ردوم او په دی باور یم چی دا یوحقیقت دی چی دا ټول د مسلمانانو د پاره هر څومره چی و کړلی شی هماغومره ستونزی جوړوی خو تر دی زیات په دی موجوده حالاتو کی مسلمانان راته ګرم او ملامته بریښی. د وی په سر کی دا مسؤلیت د سعودی عربستان دولتی واکداران چی د رهبریٔ په مقام کی یی سُنی وهابیان ځای لری او د ایران دولتی واکمنان چی په سر کی یی شعیه اخوندان واقع دی، د ټولی اسلامی نړۍ د مسلمانو د ذلت ، بربادیٔ او بدبختی مسؤلین دی. ځکه دوی هر یو هم سعودی وهابیان او هم د ایرانی شعیه اخوندان ځانونه د اسلامی نړۍ مرشدان او رهبران بولی او دواړه خواوی په دی کار کوی چی یو دبل نه زیات د نوری نړۍ د مسلمانو او همدارنګه د جهانی سترو هیوادونو لکه امریکا او روس ملګرتیا تر د لاسه کړی او په اسلامی نړۍ خپله باداری او حکمرانی و چلوی.

د دی دوه هیوادونو موجوده زمامداران په اسلامی نړۍ کی لګیا دی کار کوی او د خپلو ګټو د ساتنو د پاره په هر هیواد کی لاس پوڅی او نو کران پیدا کوی او په دی توګه د اسلامی نړۍ په هره پیځکه او ګوښه کی د دی دوه مسلمانو ډلو (سُنی او شعیه و) تر منځ نوی او تازه شخړی را منځ ته کوی.

زمونږ په وطن افغانستان کی د سیاف د اتحاد اسلامی ډله، د القاعدی، طالبانو او داعش ډلی، د حقانی شبکه او دی ته ورته په لسګونو ډلی په پاکستان کی د سعودی عربستان او د نورو عربی سُنی شیخانو د مستقیمی مرستی لاندی د شعیه ډلی زپلو د پاره په ټول قوت سره لګیا دی د نورو تخریبی اعمالو تر څنګ دی مذهبی تشنجاتو ته هم لمن وهی او د اجیرو قوتونو په توګه کار ورته کوی.

همدارنګه د ایران اخوندان هم په ډیر شدت سره زمونږ په هیواد کی د هرډول فرهنګی تجاوز تر څنګ د مذهبی اختلافاتو پیدا کیدو ته هم د خپلو نوکرانو په مرسته یعنی د وحدت د حزب د اته ګونی ائتلاف د مشرانو په همکاری

لکه محمد محقق، کریم خلیلی، اصف محسینی او نورو په واسطه بیا لګیا دی د ۱۹۹۲ کال پیښی را تکراروی او غواړی چی د داعش د تروریستی ډلی سره د مقامت په بهانه د لشکر فاتیمون هغه جنګیالی چی د وحدت د حزب په مشوره په ایران کی د غریبو او مجبورو مهاجرو افغانانو د اولاد نه یی جوړ کړی او د سوری یی هیواد ته یی د بشار اسد په پلوی د جنګ د پاره لیږلی او ګڼ شمیریی په عراق کی هم د جګړی په میدان کی پراته دی افغانستان ته را صادر کاندی او په دی توګه افغانستان یو ځل بیا د مذهبی او قومی جګړی میدان و ګرزوی.

په همدا پرون کی، په ایران د محمد محقق اظهاراتو دا په ګوته کړه چی اصلاٌ د دی مشرانو سره نه د اسلام د دین د تخریب کومه اندیښنه شته او نه د هیواد د ملی ګټو ور سره څه خیال پاتی دی.

له بده مرغه دوی په دی نه پوهیږی چی د ایران او پاکستان هیوادونه زموږ د همسایه ګانو په توګه په تیرو څلویښتو کلونو کی موږ د ډیرو کړاونو سره مخامخ کړی یو ، او تر څنګ یی د سعودی وهابیانو د تروریستانو د ډلو په تقویی او حمایی سره موږ او زموږ د هیواد مظلومان مسلمانان څومره په وینو کی و لمبول او څنګه یی دا ټول هیواد تباه او برباد کړ؟ ولی لا هم زموږ په ملت نازل شوی سیاسی او مذهبی مافیه وی مشران لګیا دی د لا نورو بر بادیو د پاره د ایران او سعودی د زعامتونو سره معاملی کوی.

ښاغلی محقق، ښاغلی مسلمیار، ښاغلی عطا نور،ښاغلی دوستم او د دوی په شان نور د پردیو په لومو کی راګیر مشران باید په دی و پوهیږی چی که د هیواد د ملی ګټو د تامین  د پاره  د نورو ملی قوتونو سره د یوځای کیدو پر ځای د اختلاف او بیلوالی لاره غوره کړی نو یواځی به پاتی شی، مات به شی ، پښیمانه به شی، د ملت د محاکمی سره به مخامخ شی او د هماغو مجبورو ځوانانو د سختوګوزارونو لاندی به راشی چی دوی یی د نورو د ګټو د پاره د پردیو په وطن کی د پردیو جګړو د میدانونو قربانی کړیدی. دا کار حتمی کیدونکی ځکه دی چی راتلونکی نسل زموږ او یا هم د تیرو نسلونو په څیر ناپوه، بی خبره او ساده نسل نه دی بلکی راتلونکی نسل با تمیزه، اګاه او د دوست او دښمن پیژندونکی نسل دی. په دی باور ولری چی ستاسو اصلی څیری د ټل د پاره د قومی او مذهبی پوښونو لاندی پټی نه پاتی کیږی او هر یو به د خپلو اعمالو حساب دی زوریدلی ملت ته ور کوی. په دی هم باور ولری چی په نوی نسل کی پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، نورستانی، بلوڅ، پشه یی او نور نه نشته، همدارنګه راتلونکی نسل د هندو، مسلمان او سُنی یا شعیه په نوم نړۍ ته ځان نه ور پیژنی، بلکی راتلونکی نسل به افغان وی، مسلمان به وی او انسان به وی. زیار مه باسی چی د دی را روان بهیر مخه و نیسی، ځکه چی تاسو نور د دی توان نه لری چی مخه و نیسی او په ډیر لنډ راتلونکی کی به تاسو دا تغیر او بدلون په خپلو ګناه کارو سترګو و وینی. انشاء الله . پای